همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# په مزارشریف کې د کانونو د ۱۴ تنو ځارونکو لپاره تخنیکي روزنه

په دې تخنیکي روزنه کې د ځمکې په سر او لاندې د کان ایستنې لړۍ، روغتیا او خوندیتوب، د ژوند د چاپېریال اړخونه او د سروې میتودونه شامل وو. د کانونو ځارونکو همدارنګه په بلخ کې د کان ایستنې په یوې کارخانې کې خپل مهارتونه تمرین کړل. دوی اوس کولی شي په هغه ساحه کې د 55 کانونو ساحو تفتیش ترسره کړي چې دوی یې په هغو ولایتونو کې کار کوي. دوی کولی شي وڅېړي چې آیا کان کیندنې فعالیتونه نورمونو، معیارونو او مقرراتو سره مطابقت لري او یا چیرې د لیست شویو مقدارونو په تړونونو موافق دي. دا مرسته کوی ترڅو د پیسو سمه اندازه او همداسې حقیقي فیس او مالیات تضمین کړي.

د روزنیز پروګرام د ګډونوالو څخه د فاریاب ولایت یو تن ګډونوال داسې تبصره وکړه: «دغې روزنې زمونږ ظرفیتونه تر زیاتې کچې پورې لوړ کړل. هغه عصري پوهه چې مونږ د دې روزنې په بهیر کې په لاس راوړه زمونږ سره به مرسته وکړي چې تخنیکي ستونزې را په ګوته کړو. همدارنګه، اوس مونږ کولای شو د سیمو د مدیریت ټیمونو ته د حل مناسبې لارې وړاندې کړو».

افغانستان د منرالي سرچینو لکه مس، وسپنه، سره زر، لیتیوم، نادره خاوره او کوبالت له پلوه بډای دی. دا سرچینې د هیواد د اقتصادي ودې، د نورو عوایدو د لاسته راوړلو او د کان ایستنې په سکتور کې د ۱۰ زرو نه تر ۱۴ زرو پورې د کار د منځته راوړلو د پاره یو لوی پوتنسیال برابروي. خو د دې پوتنسیال د اغیزمنې کارونې د پاره باید د کان ایستنې چارې ښه مدیریت او کنټرول شي او په شفافه توګه د هغو څخه ځارنه وشي.

*«د افغانستان په استخراجي سکتور کې د ښې حکومتولۍ د ودې» پروګرام د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH د ادارې له خوا د آلمان د اقتصادي همکاریو او پراختیا د وزارت (BMZ) په استازیتوب پلي کیږي. د افغانستان د کان ایستنې سکتور یو لو اقتصادي پوتنسیال لري چې کولای شي په هیواد کې اقتصادي ودې ته د پام وړ پرمختګ ورکړي. د دې لپاره چې دغه پوتنسیال په بشپړه توګه وکارول شي، نوموړی پروګرام په پام کې لري چې په استخراجي سکتور کې دولتي عواید زیات کړي، پانګونه وهڅوي او د افغانستان د اداري فساد سره دمبارزه وکړي. دې پروژې د نورو کارونو تر څنګ د ۲۰۱۳ کال راهیسې د بیلابیلو موضوعګانو لکه د کان ایستنې د پلان جوړونې، د کان ایستنې د اقتصاد او د کان ایستنې د ځارنې په باب ۲۱ روزنیز کورسونه د کانونو د ۳۱۰ تنو ځارونکو او د کانونو او پټرولیم د وزارت او د هغه د ولایتي ادارو نورو کارکوونکو لپاره جوړکړي دي. برسیره پر دې، دا پروژه د افغانستان د استخراجي صنایعو د روڼتوب د نوښت (AEITI) څخه د روڼتوب د ودې او اداري فساد سره د مبارزې په موخه ملاتړ کوي.*

Teaser text:
پخوا نوموړو ځارونکو د روزونکو په یوه روزنیز پروګرام کې ګډون کړی وو چې د افغانستان د کان ایستنې په سکتور کې د ښې حکومتولۍ د ملاتړ لپاره د المان د پروګرام له خوا جوړشوی وو. د افغان-المان د همکاری اداره د افغانستان د کانونو او پټرولیم د وزارت سره د نوموړي روزنې په جوړولو کې مرسته وکړه او هغه یې په بشپړه توګه تمویل کړه.
تقدمونه:
ښه حکومتوالي
Province:
بلخ
Downloads:
خبرپاڼه - په مزارشریف کې د کانونو د ۱۴ تنو ځارونکو لپاره تخنیکي روزنه - پښتو
Image:
231117_Pic_MinGov_Technical_Training_1
Subtitle:
نن د بغلان، بلخ، فاریاب، کندز، جوزجان، سمنګان او سرپل د ولایاتو د کانونو د ۱۴ تنو ځارونکو لپاره یوه دری اونیزه تخنیکي روزنه پایته ورسیده

د خبر پول:
Press release

02.09.1396

- English
- Deutsch
- دری